مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۱۱/۲۱

# د کرکو فصلونه

ډېر ځلي داسي کېږي

چي په ککره کي دې زړه کي دې لښکر د نفرت

يو ځلي سر راجگ کړي

ښايي دغسي وخت چوپتيا غوره شي

کله چي نه پوهېږې څه ووايي

کېدای شي خولي نه دې راووزي نېش لرونکي توري

ښايي دغسي وخت چوپتيا غوره شي

ذهن ته ژبي ته چوپتيا ورزده شي

که د نفرت په ملتيا خوله خلاصه شوه

نو د ککرو کروندو کي به د کرکي بزغلي راشنه شي

بيا به د کرکو دا فصلونه څو کلونه رېبو؟

۲۰۲۱/۰۶/۱۵
هېدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځير و لولئ